ليکونکی : داکتر پاول ال ويلهيم (Dr. Paul Willlium).
منبع او دخپريدو نيټه : گلوبال ريسرچ « دجولای ديرشم کال ۲۰۱۵ »
ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل» .

---

## دامريکی دمتحده ايالاتو دمرکزی اطلاعاتی آژانس « CIA » پواسطه سره دامريکی دخاوری په دننه کی د « اسلامی تروريزم » جوړښت


## The (CIA)'s creation of „Islamic Terrorism" on American Soil

اسلامی شبهه نظامی اډی « کمپ » د امريکی په متحده ايالاتو او کانادا کی د افريقی اودامريکی ميشته افراطی مسلما نا نو ته د گوريلايی جګړو اود خنډونو د تيريدو ښخه دتکتيکونود زده کړی اودروزنی په مقصد پرانيستل شو .چی بيا وروسته له هغه چی په دی کمپ کی نوموړی مسلمانانو دګوريلای جګړو اودجګړی په وخت کی د خنډونو د تيريد لو په تکنيکونو باندی پوره پوهاوی تر لاسه کول ، نوبيا په ځا نګړی بڼی سره توررپوستکومسلمانانو يی پاکستان ته ليږل چی هلته دجنګ اود جګړی مخکی تللی مهارتونه زده کړی کوم چی دهغوی زيات شمير يی بيرته نوموړی کمپ ته راستون نشول.

ددی اډو(شبهه نظا می کمپونو ياپارکونو) قصی يا دهغو تاريخی پيژندګلوی لا نوی اوتازه نه دی اوداځکه چی ددی نوموړی شبهه نظامی اډو په اړه وتلی او عمده تيولنيز رسنيو(ميديا) په شمول د فا کس اجنسی (Fox Agency) ډير خپرونه ترسره کړی دی.

ددی مرکزونو اويا د دی کمپونو د پرانيستلو اصلی مخه جهاد کول وه چی تاريخ يی (۱۹۷۹) کال ته راګرځی يعنی هغه وخت ته چی نوموړی اجنسی يا ددی اډو واکمنو په سلونو افراطی اسلا می روحا نيون دنړی له هرګوټ ښخه امريکی متحده ايالاتو ته ليږ ل چی هلته افريقايی الاصل امريکا يی مسلما نا ن استخدام کړی اوبيا د مقد سی جګړی ترعنوان لاندی په افغانستان کی دشوروی اتحاد د ميشه نظامی قطعاتو پرضد ورولیږی.

***دمذهبی مبلغا نو تبلیغ*** : دمذهبی مبلغانومذهبی تبلیغات دپاکستان د تبلیغ جمیعت یا داسلامی غورځنک له طرفه ډیر قدردانی شو کوم چی دغه غورځنګ په (۲۱۳) هیوادونو کی د(۱۵۰) تبلیغی غړو په لرلوسره اسلامی سخت دریځ قوانین (شریعت)خلکو ته تبلیغ کوی، دغه تبلیغی ډلی ټپلی په یوالی اوپه یوه آواز سره خپل مقاومت اویا خپل مخالفت د غربی فرهنګ په وړاندی له ځا نه ښودل او پر دی باندی ټینګار لرل چی مسلما نا ن نه باید دهغه خلکو سره په تماس کی اوشی کوم چی هغوی داسلام قوانین اویا شریعت نه منی اویا دهغو شرعی بارونه د توری (شمشیر) تر نوم په قسم خوړلو تصویب اوتاید نکړی «جهاد یعنی سیف». ددغه غورځنګ غړی هرکال د دری ورځودباره سره د پاکستان په یوه وړوکی ښارګوټی چی رای وند (Raiwind) نومیږی سره را ټولیږی اوغونډی کوی .




***مونږ تاسو ته زده کړه ورکوو چی تاسی لکه پړانګانواولیوانو اووسی***

**شیخ مبارک لیلانی( دامریکی د مسلما نا نو بنست ایښودونکی )**

په کال (۱۹۷۹) کی شیخ مبارک ګیلانی دیوډلی مذهبی تبلیغاچیانو سره په ګډه دپاکستان دلاهور له ښار څخه بروک لینور (Brooklynwhere) ته ورسیدل اوخپل راغلی تبلیغی ډلو ته دغه ښارددارالاسلام په نوم ورویژندل یعنی هغه بدنام او له شخړو ډک د با نډونو کوڅه کوم چی په اصطلاح د مقدس جهاد دپاره له دغه ځای څخه سلاح ترلاسه کوی ، اوهم دخپلو دتیلیفونو نمری هغو

کسانو ته چې دوی دهغو سره په پاکستان کې اړيکي لري يواوبل سره تبا د له اوپه ضمن کې په زرونوډالرپه نقده بڼې سره هغوته ورکول کيدل اوبيا هغوی ته په همدې ځای کې داسې تبليغ ترسره کيدل چه که چيری تاسې په دې مقدسه جګړه کې شهيدان شولی نو تاسو ته «اوه» جنتونه او په دې اوه جنتونو کې (۷۰) حوری په انتظار کې نا ستې دې .

**اسلامبرګ ته ښه راغلاست** : په کال (۱۹۸۰) کې نوموړی اجنسی يا دشبهه نظامې اډو سرمشريزه داسې وپټيلل يا دی مثلی ته پام وشو چې د ډيرو مالی لګښتونو د مخنيوی دپاره دا به ډير ښه وی چې دغه لمړنی او ابتدايی کمپونه د شيخ ګيلانی تر سرپرستی لاندی دهيواد په ولاياتو او د ښارونو څخه دباندی رامينځته شی اوهغه هم دمحل په نظرکې نيولوسره چې بايددنيوپارک دهنکوک (Hancock) ساحی اوسيمی دغرونو درشل ته نژدی ايجاد کړ شی يعنی هغه ځای کې کوم چې د دلاوار (Delaware) دسيند د ختيځ اود ولويديز شاخی اوبه د سيند له سرچينی څخه چې بيا دپنسلوانيا اودنيو جرسی د ولاياتو دلاری څخه په تيريدوسره د شمالی اتلانتيک سمند رته را ولويږی .يعنی هغه غرچې په کې لوی اوغټې تيږی (صخره) پروت دی ،اوپه هغه کې تورزنګی ماران ځالی لری ، دګيدړانو ، ليوانو اودځو صحرايی پشوګانو ډلی دی خوا اوهغه خوا ګرځی او راګرځی دغه ځای يعنی اسلامبرګ د اوه هکتارځمکی په ساحه کې موقعيت لری




اسلامبرګ ته ښه راغلاست

اسلامبرګ کې دډزو اودنښو وهلوځايونه دتګ اودراتګ په لاره کې دخنډونو په لرلواوهم پخپل خنې تړانګونو کې دزيرزمينی اودپټن خايونو په درلودو سره

*یوځانګړی ساحه اوځای بلل کیږی اوهم هغه اوسیدونکی کوم چی په دغه ځای کی ژوند کوی دهمدی غره په لمنو کی دژوند ځنی اسا نتیاو په برابرولو سره شپی او ورځی تیروی چی د ژوند ا نه دغه تسهیلات د یوی تریلریا د باروړلووسیله د کالیود مینځلو (خشکه شوی ) دوبی خانه- یوه وړه اوکوچنی دوکان د نا ستی اود خبرواترو خونه یا د نورو دستا یش کولو دا جماع ځای اویوه مسجد هم ترسترګو کیدل.همدارنګه سربیره پر پورتنیو اسا نتیا و ددی محل دننوتلو دروازی په درشل کی یوه محافظوی یا دتلاشی کولو پوسته هم ځای پرځای شوی وه.*

*په دغه سیمه کی د توپکو ډزی اود چاودیدونکو موادو دچاودنی غږ دمیشته خلکو دازار اوناقراری زمینه را برابروله چی هغوی دهمدی پرابلم دحل دپاره خپل شکایتونه مسولو مقاماتوته وخت ناوخت وړاندی کول چی له بده مرغه د ځنی محدودو قوانینو له مخی هیڅ یو مسول مقام دخلکو دشکایتونو په اړه کوم ځانګړی اجرا ت نه تر سره کول – په اسلامبرګ کی ځنی محدودیتونه د پولیسو په وړاندی هم وضع شوی وه اوهغه داچی پولس ته اجازه نه وه چی نوموړی ساحه دملی امنیت د تا مین په منظور هراړخیزه وڅاری .*

*همدارنګه په دغه سیمه کی یو غیر قانونی یا یوغیر رسمی قبرستان هم موجود وه چی هلته مړی بی دهغه چی دهغه دهویت دهغه دقبر په شناخته کی ولیکل شی ښخیدل ، دبلی خوا څخه که چیری لازم ګنل کیده چی نوموړی قبرستان وڅارل شی نو په هغه صورت کی یواځی دنیویارک دولتی پولیس ته اجازه ورکړ شوی وه چی دامنیتی له اړخه دا قبرستان له نژدی څخه وپلټی اما په هیڅ بڼه هغه ته اجازه نه وه چی د مړی په اړه کوم چی هغه په دغه قبرستان کی ښخ شوی دی دهغه په پیژند ګلوی کی لاس پوری کړی .*

*په هرصورت کله چی اسلامبرګ ایجاد شو **ګیلانی** خپل ځان د (CIA ) مامور اوپه راتلونکی جهاد کی د(CIA) مخبر معرفی کړ اوپه همدغه اسلامبرګ کی ژوند کاوه هغه یو تازه وارد مسلمان وه او داسلام پرځنو قوانینو باندی نه داچی باور نه درلود بلکه داسلام ځنی روایت او قوانینو ته د شک په سترګو کتل اوداځکه چی هغه یوډیر ابتدای اوناوارد مسلمان وه .*

***نادار اوبی وزلی تیولنی** : داسلامبرګ ایجاد اورامینځته کیدل یوه غټه بریالیتوب وه اوهغه داچي دهمدی آ ډی اوشبهه نظامی بارک یا جزوتام څخه په سلګونو*

افریقایی –امریکایی روزل شوی مسلمانان دجهاد دپاره افغانستان ته ولیږل شو چی هلته دافغانی مجاهید ینو په لیکو کی ځای پرځای شي او په افغانستان کی د شوروی اتحاد دمیشته نظامی قوتونو په وړاند وجنګیږی . کوم چی د دی مسلما نا نو یوشمیر هملته په جنګونو کی مړ شول اوځنی نور یی په شمول د کلیمنت رودنی همپټون(Clement Rodney Hampton) بیرته امریکی ته را ستون شو او دامریکی دمتحده ایالاتو دنړیوال تجارتی مرکز د بمب الوزولو د د سیسی پلان یی جوړ اوترسره یی کړ.

دبلی خوا څخه دامریکی دمتحده ایالاتو داطلاعاتی آژانس(CIA) په کوربه توب اودهغه ترمستقیم نظارت لاندی لکه داسلامبرګ په څیر نورابتدایی کمپونه دامریکی دمتحده ایالاتو اودکانادا په دی لاندنیو سیمو کی پرانیستل شو :

رډهوس(Red Hous) ،ورجینیا ،کومرس،جیورجیا ، یارک ، سهیلی کارولینا ، دوبر، تینیسی ، بویرنا (Buerna) ،ویستا ، کولورادو ، ما کون ، سکواویلی (Squa Valley) ، کلوفورنیا ، ماریون ، الاباما ، تالی هینا ، اوکولاهما، تورنتو اونتاریو .

ګیلانی په اسلامبرګ کی میشته شو او نور کمپونه دحاکم اودمسلط سازمان تر څارنی لاندی کوم چی د جماعت ال فقرا (Jamaat ul Fuqra) یا دنادارو او دبی وزلو دټولنی چارتی په نوم سره یادیدل خپل فعالیتونه تر سره کول – ګیلانی ددی خیریه موسسو مرکزی دفتر دپاکستان په لاهور ښارکی پرانیستل او دامریکی د جماعت ال فقرا څانګه دامریکی دمسلما نا نوله ما لیی څخه په یو معاف شرکت واغوښت چی په بروکلینیس (Brooklynas) کی د**ګیلانی** د مسجد سره اړیکی لرل .

**دافراط ګرای دډیریدو ضرورت** : له افغانستان څخه په کال (۱۹۸۹) کی دشوروی اتحاد دسر تیرو دوتلو څخه وروسته بیاهم دامریکی اطلاعاتی آژانس (CIA)خپل ملاتړ له اسلامی افراط ګرایانو څخه ونه سپمول اوپه کال (۱۹۹۰) کی دداکتر ایمن الظواهری دمرکزی آسیا سرتاسری برخو ته دهغه دسفرزمینه دخپل مالی مرستو په ترسره کولو سره برابرکړ اوهغه هم په دی هدف چی الظواهری دالقاعدی دسازمان درهبری دوم کس هلته په مرکزی آسیا کی د افراط ګرایی د سازما نونو د جوړولو تخم وشیندی او د نوی جوړ شوی

جمهوریتونو ستنی راسسته اویا تخریب کړی. هغه یعنی الظواهری وتوانیدل چی چیچینان دروسی دفدررالی دولت پر ضد راوپاروی دازبکستان ددولت درانسکورولو هڅی جاری کړی او دچین دشین یانګ( xinjiang) په ولایت کی دایغور (Uigurs) شورشیان دچین پرضد ولمسوی .

دبلی خوا څخه داکتر الظواهری د خپل وظیفه شنا سی له مخی په باکو اوآذربایجان کی دامریکی دسفارتونو د نظامی اوداطلاعا تی استازو سره په منظم ډول لید نی او کتنی کول چي په بالکان کی د « سلودن میلوسبیک» (Slobodan Milosevic) ددولت دراپرزولود پلان په جوړولو کی کوم چی د(سی آی ای) اودالقاعدی په ګډه همکاری ترسره کیدل خپل ونډی دیو لوی البانیا دتاسیس دپاره چی البانیا – کوسوبا - اودمکیونیا یوه برخه په بر کی ونیسی تر سره کړی .

ددغه عملیاتونو دسرته رسولو دپاره اوبیا په ځانګړی بڼی سره په بالکان کی ددی ضرورت احساس را په ګوته کوی چی باید ډیر زیات شمیرجهادیان یا اسلامی افراطیان ولرو او یا یی وروزو چی له نیکه مرغه **دګیلانی** کمپ زمونږ ددغه ضروت په رونق بخښولو کی ستره ونډه ترسره کړی اوډیری ډیری نوی روزل شوی امریکایی اوافریقای مسلمانا ن دی ته چمتوکړی چی دنورومجاهیدینو په لیکو کی دنړی په هرګوټ کی ورګډ شی اوپه جهاد باندی لاس پوری کړی .

دډاکتر الظواهری مرستی له دی سببه داهمیت وړ بلل کیږی چی هغه دامریکی دمتحده ایالاتو د تلپا تی اقامت روند دامریکی دمهاجرت اودتابیعت د خد ما تو پواسطه سره دجنوری میاشت کال (۲۰۰۰) کی تضمین او ترسره کړ.

**دعراق وشام داسلامی دولت پیدایښت:** د سپتمبر دیولسم نیټی دپیښی څخه وروسته نوموړی آژانس(سی آی ای ) ددی دپاره چی په مینځنی ختیځ دبا لکان په هیوادونو اوپه مرکزی آسیا کی د خپل له تشنجه ډ ک ستراتیژی پلی کړی اوپه هغو سیمو کی شخړی او خشونت ته لمن ووهی نو داسلامی مقد سی جګړی دجنګیا لیو دودی اود روزنی روند اوجریان ته دخپل نه ستړی کیدونکی هلی ځلی جاری وسا تل اوهڅه یی وکړچی په افریقاکی د امریکی دمتحده ایالاتو د هژمونی د تیکاو اودپلی کولو دپاره په هغه وچه کی شخړی

*او خشونت ته لاپسي لمن ووهی . دامریکی د متحده ایالاتو دشرکتونو اویا دپانګوالو ددی هلوځلو څخه یواځنی اورغنده هد ف داوه اویا دادی چي څرنګه کولای شی چي په ایروآسیا کی څه داقتصادی اوهم څه دسیاسی له اړخه خپل کنترول ته دوام ورکړی.دامریکی دامنیت ملی اود هغه هیواد د با ند نیو اړیکو دشورا پخوانی وتلی ستراتیژست او کارپوه* **زیګونیو برزینسکی** *( Zbibniew Brzezinski ) داسی ولیکل :*

***« په ایروآسیا کی د امریکی د متحده ایالاتو د پاره رغنده جیوپولیتیکل جایزه اوانعام ....دادی چی په اوسنی وخت کی بی د ایروآسیا د قدرت د ترلاسه کولو څخه بل د هیڅ یو قدرت ضرورت په هغه سیمه کی نه لیدل کیږی .. نود نړی په سرتا سری کی د امریکی د متحده ایالاتو تفوق او لاس بری مستقیما په دی اړه لری چی امریکی د څه مودی د پاره اویه څه شان سره خپل اغیزمن برتری اولوړوالی د ایراسیا په لویه وچه کی تینګ سا تلی شی ... یا په اصطلاح په بل عبارت سره اوهغه داچی که د باستا ن د پخوانی زمانی دیوډیر بی رحم امپراتوری قصی ته غوږشو نو د هغه امپراتوری د د ری لویو لشکرکشیو ضرورت ددی د پاره وه چی درعیت په مینځ کی امنیتی وابستګی وسا تی اودراتلونکی احتمالی تکر اود خلکو په مینځ کی د انشعاب اود څوتوټه کیدو مخه ونیسی او د خلکو په مینځ کی د ممکنه راتلونکی بربریت اودوحشیګیری مخه بنده کړی ».***

*نو دممکنه راتلونکی بربریت دمخنیوی داستراتیژی په مطابقت سره* دعراق شام اسلامی دولت د قوتونو روزل اوهغو ته د جګړی د ځا نګړی مهارتونو ورزده کول دامریکی دمتحده ایالاتو دنظامی کارپوهانو په واسطه سره داردن د صفوی (Safawi) ښار په نظامی اډه اوکمپ کی پیل اوترسره شو ، اوددغو جګړه ما رو داعشیا نو ته سلاح او جنګی مهمات د(سی آی ای ) په مستقیم نظارت سره د لیبیا د دیکتا تور«معمرالقذافی » دسلاح له ډیپوګانو څخه کوم چی هلته سلاح زیرمه شوی وه چمتو شواودهغه انتقال سوریی ته اوبیا دعراق وشام ددولت جنګیالیو ته په اختیار کی اچول د (سی آی ای) د دایرکترداوید پتریوس (David Petraeus) ترمشری لاندی ترسره شو،داوید پطریوس کوم چی هغه د هغه بد نا می له کبله کوم چی دخپل بیوګرافر( ژوندلیکونکی ) سره نا جا یزه اړیکی لرل پخپله خوښه له خپل دندی څخه ترشا شو او دوظیفی څخه

استعفا ورکړ .
***عرضه اوتقاضا:*** د لوړ اودزیات تقاضا په وړاندی یعنی جهادی جنګیالیو ته دضرورت د لرلو موضوع د «پاکستانی» ګیلانی کوم چی داسلامبرک په کمپ کی دنورو جهاد یا نو سره ژوند کول ځواب اویا دهغه واکنش داسی را څرګند شو : هغه وویل چی مونږ دلته زیات افریقای مسلمانا ن روزلی دی چی دجهاد دپاره بلکل چمتود ی چی باید دجهد اودمقدسی جګړی دبریالیتوب د پا ره دجنګ میدان ته ولیږل شی او که بیا سره د هغه نور جهادی جنګیالیو ته ضرورت لیدل کیږی نو لازم دی چی د اسلامبرګ په څیر نور کمپونه په شمول د تکسا س دامریکی دخاوری په دننه کی په نورو ځا یونو کی هم جوړ کړ شی. اودا ځکه کیدای شی چی ددی جهادیانو ډیری شمیر یی په دغه غیر رسمی ګورستان کی بی دهویت ښخ کړ شی او یا ځنی نور شمیر یی شاید دقوانیو په نظر کی نیولو سره مسولو مقا ما تو ته خپل شکایتونه وړاندی کړی او ډیر ډیر نور کوم چی په دغه کمپونو کی روزل شوی اویا فارغ شوی دی پاکستان ته ولیږل شی چی هلته دافغانستان پر ضد دنورو افغانی جهادیانو سره په جهاد لاس پوری کړی .
***مقاومت*** :بی له کوم شک اوتردید دلته په امریکی کی یا دامریکی دخاوری په دننه کی دداسی اسلامی کمپونو دایحادولو په مقابل کی کوم چی د (سی آی اي ) تر نظارت لاندی ترسره کیدل خلکو خپل مخالفت اومقاومت ښکاره کړل حتی تردی پوری چی خلکو د مخا لفت په رڼا کی د امریکی د متحده ایالاتو محکمه دمجبوریت په لحاظ ډیری دغه کسا ن یی څه دتوطیه ګر، څه د قاتل اوڅه دسلاح د قاچاق وړونکو اوڅه پا تی یی د تقلب کار په نوم په مختلفو جزاګانو محکوم کړ. اوځنی باقی کسان یی دجرمی مجرمینو ترعنوان لاندی دهیواد په سرتاسری کی تر تعقیب لاندی ونیول په شمول د هغو لسو ناحل کړل شوی تروریستی پیښنو اود هغه د عا ملینو پیژند ګلوی او د(۱۷) بمب غورځونکو دپیژندنی موضوع چی د(۱۹۷۹) او د(۱۹۹۰) کلنو ترمینځ پیښه شوی وه تر څارنی لاندی ونیول شو .
په کال (۲۰۰۱ ) کی دکلفورنیا دال فقرا (ul Fuqra) له کمپ څخه دهغه ځای یواوسیدونکی چی هغه دټوپک په ډزوسره دښاردکلانتری مرستیال وژلی

وه دقاتل درجه یک دجزا په ورکولو سره محکوم شو همدارنګه دهمدی ډول کسانو څخه یوبل متعصب اوافراطی مسلمان د ټوپک د قا چاق کولو په تور دامنیتی مقاماتو پواسطه سره ونیول شو . او (۲۴) نور په رنګارنګ تورونو اوبیا په ځانګړی ډول دګرم سلاح په تعدی او نقض کولو کوم چی پر هغوی باندی لګول شوی وه د (Red House) ، اودورجینیا له ولایاتو څخه ونیول شول .

په کال (۲۰۰۴) کی تحقیق کونکو یو ناڅرګند او پټ ساتل شوی پیښه را وڅیړل داسی یوه پیښه چی په ظاهر کی هم دواشنګټن دیسی( Washington DC) د مقا ما تو اوهم دهغه چا سره کوم چی له یوه پټن ځای څخه ګولی چلول اړین وه – جان الن محمد (John Allen Mohammad) او ریچا رد راید (Richard Reid) چی پخپل بوټ کی بمب ځای پرځای کړی وه اود ***پاکستانی شیخ ګیلانی*** د ګروپ خلکو پوری تړلی وه کوم چی د ستریت جورنال دیو راپور په حواله دوی یوژورنالسیت په نامه د ***دانیل پیرل*** لمړی یی اختطاف کړل اوبیا یی ووژل دا هغه څه دی چی دغه څرګندونه دشیخ ګیلانی کوم چی هغه په پاکستان کی دخپل مصاحبی په جریان کی څرګند کړتر لاسه شوی دی. په کال (۲۰۰۵) کی د ***جماعت ال فقرا*** زیا ت شمیرغړی یی په امریکا کی دترور اودانسان وژنی په تورسره متهم شوی اودامنیتی مسولینو له خوا نیول شوی دی اوهغه داچی په امریکا کی د ټولومجموعی ترور اودسړی وژنو په پیښوکی (۳۰) کسه انسانان دهمدغه شیخ ګیلانی پوری دتړلو جهادیانو پواسطه سره ترور شوی دی اود تعجب ځای خو دادی چی دامریکی دمتحده ایالاتو د امنینی مقاماتو په هغه لستو اویاداشتونوکی چی ترشک اوګمان لاندی اشخا ص په لیکه شوی وه ددی ګروپ خلکو یعنی د شیخ ګیلانی دډلی خلک په لست کی نه وه نیول شوی اوهم دغه ډول خلک اویا ددی کمپونو خلک دیو غیر انتفاعی سازمان په بڼه دما لیا تو دورکولو څخه هم معاف ګرځول شوی وه .

***خبرتیا :*** *خیرونکی په شمول د پاتریک والش(Patric Walsh) ، او و یلیم کرایر(William Krayer) هغو کله چی داسلامبرګ اونورهمد سی ورته اړی مستقیماً له نژدی څخه ولیدلی نوداسی یی څرګندونه وکړل ؛ که چیری احیاناً په دی نژدی وختونو کی دامریکی دخاوری په دننه کی تروریستی عمل ترسره*

شی نو دهغه کړنی عامل اویاعاملین به دهمدی شیخ ګیلانی له ګروپ څخه به وی . اوهغه هم په هغه اسناد سره کوم چی دا ډول اډی د (سی آی ای) تر نظلرت لاندی رامینځته شوی وی دا ډول یرغل ممکن دی چی د نومورو کمپونو دطراحانو اودبنست اینسودونکو له خوا به مخکی دمخکی پیشبینی شوی وی.

---------------------------------------- **په درنا وی**